أصول العقيدة - بشتو

# د عقيدې بنيادي خبرې

جمعية الدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالزلفي

237

هاتف: ٤٢٣٤٤٦٦ ٠١٦ ـ فاكس: ٤٢٣٤٤٧٧ ٠١٦

جمعية الدعوة بالزلفي

# د عقيدے بنيادى خبرے

# أصول العقيدة-بشتو

جمعية الدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات في الزلفي
Tel: 966 164234466 - Fax: 966 164234477

# أصول العقيدة

أعده وترجمه الي اللغة البشتو

جمعية الدعوة والإرشاد و توعية الجاليات بالزلفي

الطبعة الثانية: ٨/١٤٤٣هـ


ح المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالزلفي

فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر

المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالزلفي

أصول العقيدة- الزلفي، ١٤٣٩هـ

ردمك: ٤-٠٨-٨٢٤٣-٦٠٣-٩٧٨

(النص باللغة البشتو)

١ - العقيدة الإسلامية      أ- العنوان

ديوي ٢٤٠      ١٤٣٩/٦٣٥٤

رقم الايداع: ١٤٣٩/٦٣٥٤

ردمك: ٤-٠٨-٨٢٤٣-٦٠٣-٩٧٨

# دعقیدئ بنیادی خبری

## د توحید پیژندنه او د توحید قسمونه

**توحید:**

هغه کارونه چې الله تعالی پوری خاص وی ، په هغې کښې الله تعالی یک یو ګڼړل، اود عبادت ټول قِسمونه الله تعالی لره خاص کولو ته توحید وئیلی شی ، دا هغه لوئي کار دی چې الله تعالی پدی حکم کړی دی ، الله پاک فرمائي : « **قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ**» {الاخلاص:١} ترجمه : اووایه هغه الله پاک یک یو دی الله پاک فرمائي : « **وَمَا خَلَقْتُ الجِنَّ وَالإِنْسَ إِلَّالِيَعْبُدُونِ**» {**الذاريات:٥٦**} ترجمه : نه دی پیداءکړی ما پیریان او انسانان مګردی دپاره چې زما بندګی وکړی ، الله پاک فرمائي «**وَاعْبُدُوا اللهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا** » {النساء: ٣٦} ترجمه : او بندګی وکړئي د الله پاک او مه شریک کوي د هغه سره هیڅ شی .

توحیدپه دری قسمه دی (١)توحید ربوبیت (٢) توحید ألوهیت (٣) توحید أسماء والصفات.

### (۱) توحيد ربوبيت:

ددی کائناتو په جوړولو او چلولو کښې الله پاک یک یو ګنړل چی الله پاک روزی ورکونکې ژوند ورکونکې دیے ، او مرګ راوستونکی دی او دالله پاک په اختیار کښې د زمکي او د آسمانونو بادشاهی ده ، الله پاک فرمائي: «**هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرُ اللهِ يَرْزُقُكُمْ مِنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ فَأَنَّى تُؤْفَكُونَ**» {فاطر:۳} ترجمه : آیا شته دی پیداء کوونکی سیواء د الله پاک نه چي روزی درکړی تاسو ته د آسمان او د زمکي نه ، نشته حقدار دبندګۍ سیواء د هغه نه نو څرنګه اړولے کیدیشۍ تاسو ، الله پاک فرمائی : «**تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ**» {الملك:۱} **ترجمه** : خیرونه (فائدي) ورکونکے هغه ذات دي چي په لاس کښې ئے بادشاهی ده ، او هغه په هر څه باندي قدرت لرونکےدي ، پدي کائناتو کښې چي څه موجود دی په هر څه د الله پاک بادشاهی ده ، او الله پاک پکښې خپل واک او اختیار چلوی څرنګه چی وغواړی ، او هرچیه ددي نظام په چلولو کښې الله پاک یو منل دی ، نو پدی خبره یقین کول ضروري دي چی ددی ټول مخلوق نظام چلولو کښې الله پاک ایکې یو دی ، الله پاک

فرمائي: «**أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالأَمْرُ تَبَارَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ**» {الأعراف:٥٤}**ترجمه** : خبر شئ چی الله پاک لره اختیار د پیداء کولواو حکم کولو دی ، برکت ورکونکے دی الله پاک ، پالونکی د ټول عالم دی ، د الله تعالي دا قسم تدبیر او تصرفات تمام مخلوق ته شامل دي ، ددي قسم توحید نه انکارڅوک هم نکوی مګر څه لږ خلق شته چی ظاهرًا ئی خو انکارکړی دی لیکن دننه زړونه ئی پدی اقرار کوی ، لکه څرنګه چی الله پاک فرمائي : «**وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا**» {النمل:١٤} **ترجمه** : او انکار اوکړو دوی د معجزاتو نه او یقین کړی وو په هغی باندی زړونو د دوی دوجی د زیاتي او لوئي نه ، صرف په توحید ربوبیت باندی اقرارکول اقرار کونکي ته فائده نه ورکوی څرنګه چی مشرکانو ته په توحید ربوبیت باندی اقرارکولو څه فائده ورنکړه ، دهغوی په باره کښې الله پاک فرمائی : «**وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ اللّٰهُ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ**» {العنكبوت:٦١} **ترجمه** : او که چری تپوس او کړی ته ددوی نه چی چا پیداء کړي دي آسمانونه او زمکه او دخپل حکم لاندی کړی ئی دی لمراو سپوږمۍ

خامخا دوی به وائي ، الله پاک ، پس څرنګه اړولی شی دوی دحق نه.

**(۲) توحید الوهیت :**

د عبادت ټول قسمونه یواځي د الله تعالي دپاره کول پدي شان چي یو انسان د الله پاک سره په عبادت کښي هیڅ څوک شریک نکړی او نه غیر الله ته نزدیکت حاصل کړی ، د توحید دا قسم د ټولونه اَهم او لوئي دی ، د همدي مقصد دپاره الله پاک دا ټول مخلوق پیداء کړي دي لکه څرنګه چي الله پاک فرمائي : «**وَمَا خَلَقْتُ الجِنَّ وَالإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ**» {**الذاریات:٥٦**} ترجمه : او نه دی پیداء کړی ما پیریان او انسانان مګر دی دپاره چي زما عبادت وکړی ، ټول رسولان الله پاک دی دپاره رالیږلی دی ، او کتابونه **ئې** دی دپاره نازل کړی دي ، الله پاک فرمائي: «**وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ**» {الأنبياء:٢٥} ترجمه: او نه دی رالیږلي مونږه مخکښي ستانه هیڅ یو رسول مګر وحی کوله مونږ هغه ته چی یقیناً نشته حقدار د بندګئ سیواء زما نه پس بندګی خاص کړی مالره ، دا هغه قسم د توحید دی چی کله رسولانو ددی دعوت

مشركانو ته وركړو نو هغوى انكار وكړو، دهغوى وينا الله پاک پدى الفاظو رانقل كوى : «قَالُوا أَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَ اللَّهَ وَحْدَهُ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعْبُدُ آبَاؤُنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ» {الأعراف:۷۰} ترجمه : اووئيل دوى آيا راغلى ئى ته مونږ ته دى دپاره چى مونږ بندګى اوكړو ديو الله ، او پريږدو هغه كسان چى بندګى ئى كوله مشرانو زمونږ ، دغير الله دپاره هيڅ قسم عبادت كول جائز ندى ، نه د يو نزدى كړى شوى ملائک دپاره ، او نه ديو عزتمند نبى راليږلى شوي دپاره ، او نه دبل يو نيک ولى دپاره، ځكه چى عبادت دهيڅ يو مخلوق جائز نه دى، بلكه عبادت صرف او صرف الله پاک پورى خاص دى.

**(۳) توحيد الاسماءوالصفات:**

هغه نومونه او صفتونه چى الله پاک دخپل ځان دپاره ايخودي دى او ذكركړى دى او هغه نومونه او صفتونه چي د الله رسول صلى الله عليه وسلم د الله پاک دپاره بيان كړيدى، پدى ټولو باندى ايمان لرل، داصفتونه او نومونه الله پاک لره په هغه طريقه ثابتول څرنګه چى دهغه د شان سره لائق وى، بغير د تحريف (بدلون) نه ، او بغير د تعطيل(انكار كولو) نه او بغير د تكييف (شكل بيانولو) او بغير د تمثيل(مثال

بيانولو) نه منل، او د مجازی معني په ځائې حقيقی معنی باندی حمل کول ضروري دي ، (تحريف ديته وائي چي بغير د دليل نه د الله صفتونه او نومونه د خپلي ظاهري معني نه اړول

**تعطيل**: د الله د ټولو يا بعضو صفتونو نه انکار کول دي.

**تکييف** : د الله د صفتونو کيفيت او طريقه په زړه يا ژبې سره بيانول دي ، لکه داسي ووائي، د الله لاس داسي داسي دي.

**تمثيل**: د الله تعالي صفتونه د مخلوق د صفتونو سره مشابه کول، يا دا عقيده ساتل چي دا د مخلوق د صفتونو سره مشابه (يو شان) دي ،که کوم بعض نومونه د مخلوق د نومونو سره مشابه وي نو هغه صرف لفظي مشابهت دي، په حقيقت کي دواړو ترمينځ لوي فرق دي ، لکه (رحيم) الله تعالي ته هم وائي، او د مخلوق په صفت کي هم راغلي دي، خو د الله تعالي رحمت د هغه د شان لائق دي ، او د مخلوق رحمت د زړه نرموالي او مهرباني کولو ته وئيلي شي، دارنګه هر هغه څه نفی کول چی الله پاک دخپل ذات نه نفی کړی وی، يا د هغه

رسول صلی الله علیه وسلم د هغه دذات نه نفی کړی وی ، او
هغه څیزونه چی د الله پاک او د رسول الله صلی الله علیه
وسلم نه ثابتول او نفی کول ئی نه وی نقل شوي، نو مونږ به
هم پکښې خاموشی اختیاره وو ، نه به د هغې د ثابتولو
کوشش کوؤ او نه به تری انکار کوؤ.

**د اسماءحسنی بعض مثالونه:**

الله پاک خپل ځان په (الحيِ القیوم )باندی نامداره کړی دی
نو په مونږه لازم دی چی ایمان ولرو پدی خبره چی الحيِ د الله
پاک د نومونو نه یو نوم دی ، او دارنګه دا خبره هم په مونږه
لازمه ده چي ایمان ولرو په هغه صفت چي ددي نوم نه
معلومیږی ، چي هغه کامل ژوند دی چي مخکښې ورباندی
نشتوالی نه وو ، او روستو به ورباندی فناء نه راځی، او دغه
رنګه الله پاک خپل ځان په (السمیع) باندی نامداره کړیدی
، مونږه به ایمان لرو چی السمیع د الله پاک د نومونو نه یو نوم
دی او سمع (آوریدل) د الله پاک دصفتونونه یو صفت دی
چی الله پاک آوریدل کوی څرنګه چی دهغه دشان سره لائق
وی.

**د الله پاک د بعض صفاتو مثالونه.**

الله پاک فرمائي: «**وَقَالَتِ الْيَهُودُ يَدُ اللهِ مَغْلُولَةٌ غُلَّتْ أَيْدِيهِمْ وَلُعِنُوا بِمَا قَالُوا بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ يُنْفِقُ كَيْفَ يَشَاءُ**» {المائدة: ٦٤} **ترجمه** : او وائي يهوديان لاس د الله پاک بند کړی شوی دی ، (الله پاک فرمائي) بند دِی کړیشي لاسونه ددوی ، او لعنت کړی شویدی په دوی باندی په سبب د هغې چې دوی ووېل ، بلکه دواړه لاسونه د الله پاک فراخه دی ، خرڅ کوی څرنګه چې اوغوړی ، پدی آيت کښې الله پاک خپل ځان دپاره دوه لاسونه ثابت کړی دی او د هغوي دپاره ئې دا صفت ثابت کړی دی چې فراخه خرڅه کونکی دی، نو په مونږ لازم دی چې ايمان ولروچې د الله پاک دپاره دوه لاسونه دی په ورکړه او نعمتونو باندی فراخې کونکی دی ، ليکن په زړه کښې به د هغې تصوير نه جوړه وؤ او نه به په ژبه پکښې خبری کوؤ چې په داسې داسې طريقه دی، او نه به دمخلوق د لاسونوسره تشبيه ورکوؤ، ځکه چې الله پاک فرمائي: «**لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ**» {الشُّورى:١١} ترجمه : دهغه پشان هيڅ نيشته او هغه هر څه اوری هر څه وينی، ددی قسم توحيد خلاصه داده چې په مونږه لازم دی

چی الله پاک لره به هغه څه ثابتوؤ چی د خپل ځان دپاره ئی ثابت کړی وی، یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ورله بیان کړی وی ، او هر هغه څه به دالله پاک د ذات نه نفی کوؤ چی الله پاک دخپل ذات نه نفی کړی وی، او یا رسول الله صلی الله علیه وسلم تری نفی کړی وی ، دا اصول په ټولو اسماء او صفات کښې چلیږی ، یعني بغیر د تحریف(بدلولو) نه ، بغیرد تمثیل(مثال بیانولو) نه ، بغیرد تکییف(شکل بیانولو) نه او بغیر د تعطیل(د معنی نه انکار کولو) نه ټول اسماء اوصفات د الله پاک منل .

**د کلمه توحید لااله الا الله معنی:**

لا اله الا الله : داد دین بنیاد دی، په دین اسلام کښې ددی اُوچت مقام دی ، دا اول رکن دی د ارکانو داسلام نه، او اوچته ځانګه ده د ځانګو د ایمان نه، تر هغی عملونه نه قبلیږی تر څو چی پدی کلمه اقرار ونکړی ، او په معنی ئی ځان پوهه نکړی، او ددی د تقاضا مطابق عمل ونکړی، د توحید د کلمي صحیح معنی اختیارولو نه علاوه خلاصی نشته چي هغه داده (لا معبود حق الا الله)د الله پاک نه علاوه هیڅ معبود (حقدار د عبادت) په حقه نشته، دا معنی

تقاضاکوي چې د يو الله تعالی عبادت به کولی شي او د غيرالله هر قسم عبادت به پريښودلی شي، او ددي داسي معنی کول ښکاره خطائې ده چي د الله نه علاوه بل خالق نشته دي، دالله نه علاوه بل په موجودولو باندي قادر نشته دي ، يا دالله نه علاوه بل حقيقي موجود نشته دي ، پدي معنو کښې توحيد ربوبيت خو شته ليکن توحيد اُلوهيت پکښې نشته ، او ددي کلمي اصل خو توحيد اُلوهيت دي.

**د توحيد د کلمي ارکان** :

ددي کلمي دوه رکنه دي، (۱) نفی: (لا اله)، دا کلمه د هر څيز نه د اُلوهيت نفي کوي، يعني هيڅ(**حق**) معبود نشته.

(۲) اثبات: (الا الله)، دا کلمه د يو الله تعالي اُلوهيت (معبود کيدل) ثابتوي ، ځکه چي د الله پاک نه علاوه د بل چا بندګی ونکړی شي ، او نه د بندګی څه حصه د غيرالله دپاره وکړی شي، چاچې پدی کلمه اقرار وکړو، او ددی په معنی ئی ځان پوهه کړو، او ددی په تقاضا ئی عمل وکړو چی د شرک نفی کول او دتوحيد ثابتوی ، ددی د تقاضا مطابق د مضبوط يقين سره ئے عمل وکړو دا رشتيني مسلمان دی، او

چاچی په دی کلمه عمل وکړو بغیر د عقیدی او یقین نه ، نو دا منافق دی، او چاچی ددی په خلاف عمل وکړو یعني شرک ئی وکړو، نو دا مشرک او کافر دی اګر که په ژبه باندی دتوحیدکلمه وائي.

**د کلمه توحید (لااله الا الله)فضیلت:**

دتوحید د کلمی ډیرفضائل او فوائد راغلی دی، بعض دهغی نه دادی :

(۱) مواحد انسان چی د ګناهونو د وجی نه د جهنم مستحق شوی وی ، کلمه دا توحید دهغه او دجهنم مینځ کښې د همیشوالی نه مانع جوړیږی، نبي اکرم صلی الله علیه واله وسلم فرمایلي دی: «**يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ:لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَفِي قَلْبِهِ وَزْنُ شَعِيرَةٍ مِنْ خَيْرٍ،وَيَخْرُجُ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ:لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَفِي قَلْبِهِ وَزْنُ بُرَّةٍ مِنْ خَيْرٍ، وَيَخْرُجُ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ:لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَفِي قَلْبِهِ وَزْنُ ذَرَّةٍ مِنْ خَيْرٍ**» متفق علیه [**:۱۹۳/٤٤**] **ترجمه:** د اُور نه به راوځی چاچی لا اله الا الله ووئیلی وی او د هغه په زړه کښې ئی دوربشی د دانئ په اندازه خیر(ایمان) وی، او داُور نه به راوځی چاچی لااله الاالله ووئیلی وی او د هغه په زړه

کښې دغنم ددانئ په اندازه خیر(ایمان) وی ، او داُور نه به راوځی چاچی لا اله الا الله ووئیلی وی او د هغه په زړه کښې د یوی ذری په اندازه خیر (ایمان)وی.

(۲) انسانان او پیریاند توحیدپه خاطر پیدا شوی دی، الله پاک فرمائی: «**وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالإِنسَ إِلاَّ لِيَعْبُدُونِ**» الذاریات: ٦٥**ترجمه** : ما ندی پیداء کړی پیریان اوانسانان مګر ددی دپاره چی زما بندګی وکړی، د یَعبدون معنی ده ، یُوَحِدون یعنی زما توحید ومنی ، او ما په بندګئ سره یوازي کړي.

(۳) د کلمه توحید دپاره الله پاک رسولان رالیږلي دی ، او کتابونه ئی نازل کړي دي، الله پاک فرمائی : «**وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلاَّ نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لا إِلَهَ إِلاَّ أَنَا فَاعْبُدُونِ** » الانبیاء(**۲۵**) **ترجمه**: او ندی لیږلی مونږمخکښې ستانه هیڅ یو رسول مګر وحی کوله مونږ هغه ته چی یقیناً نشته حقدار د بندګئ سیواءزمانه پس مالره بندګی خاص کړئ.

(٤) دټولو رسولانو دعوت ددی کلمئ نه شروع شویدی، درسولانو اول دعوت هم دا کلمه ده ، هر یو رسول به خپل

قوم ته وئیل: «يَا قَوْمِ اعْبُدُواْ اللّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ» الاعراف: ٥٩) ترجمه: اے زما قومه ! بندګی خاص کړۍ الله پاک لره، نشته تاسو لره څوک معبود سیواء د هغه نه.

## د کلمه توحید لا اله الا الله شرطونه :

لا اله الا الله دپاره اُوه (۷) شرطونه دی، ددی اقرار تر هغه وخت پورې نه صحیح کیږی تر څو چی یو بنده دغه ټول پوره نکړی ، اودهغی اهتمام ونکړی بغیر د ماتولو دڅه شي د هغي نه.

(۱) **العلم** : ځان پوهه کول د کلمۍ په اول جزء کښی نفی (لااله) او دویم جزء کښی اثبات (الا الله) باندی ، او ددی وجی نه کوم عمل چی لازم وی د هغی علم هم لازم وی ، کله چي بنده پدي پوهه شی چي الله پاک یواځی حق معبود دي ، او د غیرالله بندګی باطله ده نو دي عالم شو په صحیح معنی ددي کلمۍ باندی په حقه سره الله پاک فرمائی : «**فَاعْلَمْ أَنَّهُ لا إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ**» محمد: ۱۹ ترجمه : پس پوهه شه چی یقیناً نشته حقدار د بندګۍ سیواء دالله تعالی نه ، عن عثمان رضی الله عنه عن النبی کریم صلی الله علیه واله وسلم قال: «**مَنْ مَاتَ**

**وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ** » (مسلم:٢٦) ترجمه : عثمان رضى الله عنه د نبى كريم صلى الله عليه وسلم نه روايت كوى چي هغه فرمائيلى دى : څوک چى وفات شو او پدى خبره پوهيدو (يقين كونكى وو) چى (لااله الا الله) يعني نشته حقدار دبندګئ سيواء دالله پاک نه ، نو جنت ته به داخليږى.

(٢) **اليقين** : ددى مطلب دادى چه د كلمئ الفاظ پداسى طريقه ووئيلى شى ، چى زړه ئى ديقين او اطمينان نه ډک وى ، د انسانانو او پيريانو شيطانانو د وسوسو نه ئى زړه پاک وى، ددى كلمئ په معنى او مقصد باندى مضبوط يقين لرى، ورسره دا كلمه آداء كړى لكه څرنګه چى الله پاک فرمائى: «**إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا**» الحجرات: ١٥ ترجمه : يقينًا مؤمنان هغه كسان دى چى ايمان ئى راوړيدى په الله پاک ، او په رسول د هغه باندى ، بيا ئى هيڅ شک ندى كړى ، وعن ابى هريرة رضى الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «**أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنِّى رَسُولُ اللَّهِ لاَ يَلْقَى اللَّهَ بِهِمَا عَبْدٌ غَيْرَ شَاكٍّ فِيهِمَا إِلاَّ دَخَلَ الْجَنَّةَ**» [مسلم٢٧] ترجمه : د ابوهريره رضى الله عنه نه روايت دى،

چې یقینًا رسول الله صلی الله علیه واله وسلم وفرمایل: زه ګواهی کوم چې نشته حقدار دبندګۍ سیواء د الله پاک نه ، او زه د الله حق رسول یم ، د الله سره نه میلاویږی یو بنده پدی دواړو ګواهیو باندي په داسی حال کي چې هیڅ قسم شک ئې پکښې نه وي کړی مګر جنت ته به داخل شی.

(۳)**القبول** : یعنی د کلمه توحید تقاضازړه اوژبے سره قبلول او دشارع دطرفنه دراغلی خبرو تصدیق کول او کومه خبره چې د نبی کریم صلی الله علیه واله وسلم نه صحیح ثابته شی په هغی پوره طریقۍ سره ایمان راوړل.الله پاک فرمائی: « **آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلاَئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لاَ نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِ وَقَالُواْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ» البقرة: ۲۸۵ ترجمه:** **ایمان راوړیدی** رسول الله صلی الله علیه واله وسلم په هغه څه چې نازل کړی شویدي هغه ته دطرفه د رب دهغه نه او مومنانو هم ، ټولو ایمان راوړی په الله پاک اوپه ملائکو دهغه او کتابونو دهغه او رسولانو د هغه او(وائی دوی) جدائي نه کوؤ (په ایمان راوړلوکښې) په مینځ دهیچا کښې د رسولانونه او وائی دوی واوریدلو مونږ او تابعداری کوو مونږ

غوارړو بخنه ستانه اے ربه ځمونږه ! او تاته دی درګرځیدل د ټولو ، ددی کلمۍ انکار او نه قبلولو کښې هغه څوک داخل دی چې د شریعت په بعض احکامو باندی اعتراضونه کوی او یا ئې رد کوی څرنګه چې بعض خلق د غلا او زنا په حدودو اعتراض کوی ، دیو نه زیاتی ښځې کول، او دمیراث په احکامو اعتراض کوی او داسی نور احکام واخله ، الله پاک فرمائی : «**وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ**» [الاحزاب:۳٦]. ترجمه: اوندی مناسب مؤمن سړی او مؤمنه ښځه لره کله چې فیصله وکړی الله پاک او رسول دهغه د یو څیز، چې وی دِی دوی لره اختیار د دوي په کار کښې، او چاچې خلاف وکړو دحکم دالله پاک او د رسول دهغه نه نویقیناً ګمراه شو په ګمراهۍ ښکاره سره .

(٤) **الانقیاد** : ددی کلمۍ مقصد ته غاړه ایښودل او ځان سپارل دی ، لااله الاالله چې په کومو خبرو دلالت کوی هغې ته ځان تابع کول ، د انقیاد او قبول ترمینځ فرق دادی چې ددی کلمی د معنی او مفهوم د صحیح والی اقرار په ژبه باندی کولو ته قبول وائی ، او انقیاد دیته وائی چه عمل کښې ددی

کلمۍ تابع شی، نو کله چی یو تن ته د (لااله الا الله) معنی معلومه شوه او ده د زړه په یقین سره قبوله کړه لیکن په عمل کښې ئی ددی اطاعت ونکړواو خپل سر ئی ورته ښکته نه کړو او خپل ځان ئی ورته پوره طریقی سره ونه سپارلواو څه چی ورته معلوم شوی وو په هغی ئی عمل ونکړو، پدی ټولو صورتونو کښې ده د انقیاد شرط پوره نه کړل ، الله پاک فرمائی: «**وَأَنِيبُوا إِلَىٰ رَبِّكُمْ وَأَسْلِمُوا لَهُ**»الزم: ٥٤ . **ترجمه** : اوګرځی (په توبې کولو سره) رب خپل ته او تابع شی دحکمونودهغه ، الله پاک فرمائی: «**فَلاَ وَرَبِّكَ لاَ يُؤْمِنُونَ حَتَّىَ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لاَ يَجِدُواْ فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا**»**النساء**: ٦٥. **ترجمه** : پس داسی نه ده ، قسم دی ستا په رب باندی نشی مؤمنان کیدی ترهغی چی فیصله وکړی په تا باندی په هغه معامله کښې چی پیداء شوی وی په مینځ ددوی کښې بیا نه مومی په زړونو خپلو کښې تنګسیا (خفګان) دهغی فیصلې نه چی تا کړی وی، او منی به ستا فیصله په همیشه منلو سره.

(٥) **الصدق** : ددی مقصد دادی چی یو بنده خپل ایمان کښې رشتینی وی ، او خپله عقیده کښې رشتینی وی، الله پاک

فرمائی : «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللَّهَ وَكُونُواْ مَعَ الصَّادِقِينَ» التوبه : ۱۱۹. **ترجمه** : اے ایمان والو ! یره کوئي د الله نه او شئ ملګری درشتینی خلقو « **وقال صلى الله عليه وسلم من شهدان لا اله الا الله صادقا بها دخل الجنة**» [رواه احمد وصححه البانی] ترجمه : څوک چی درشتینی زړه نه ګواهی وکړی چی نشته حقدار د بندګۍ سیواء دالله پاک نه نو جنت ته به داخل شی ، او که په ژبه کلمه د توحید وائی او په زړه کښې ددی د معنی او مقصد نه انکار کوی ، دا عمل ده لره نجات نشی ورکولی ، بلکه دمنافقانو په ډله کښې داخلیږی او د تصدیق منافی (ضد) کار دا دی چی یو انسان د هغه هدایت او وحي نه چی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وربادی راغلی دی انکار وکړی ، او یا د هغی د بعضی حصی نه انکار وکړی ، ځکه چی الله پاک مونږ ته امر کړیدی په اطاعت او تصدیق د رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی، ځکه چی د خپل اطاعت سره الله پاک دهغه اطاعت پیوسته کړی دی ، الله پاک فرمائی: «**قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ**» النور /٥٤) ترجمه : ته اُووایه چی تابعداری د الله پاک وکړئ او تابعداری د رسول الله صلی الله علیه وسلم وکړئ.

(٦) **الاخلاص** : ددی مقصد دادی چی انسان خپل ټول نیک عملونه په خالص نیت باندی د هر قسمه شرک او دهغی د میلاوټ نه پاک کړی ، پدي طريقه چي ټولی خبری او کارونه خاص د الله تعالي د مخ او د هغه د رضا طلب کولو دپاره کوی ، هیڅ قسمه میلاوټ د ریاء (ځان ښودنی) او دشهرت په کښې نه وي ، او د دنیوی فائدو او ذاتی اغراضو او د خپل ښکاره او پټ خواهش پوره کولو نه پاک وی، او نه یو عمل دچا دمحبت د وجی نه کوی، او نه د یو مذهب او ډلے د وجے نه چی د الله پاک ددین نه لری وی ، بلکه د دعوت او تبلیغ مقصد به د الله پاک رضا او د آخرت نجات وی چی په زړه کښې د یو انسان خیال رانشی چی دهغه نه د شکر او دجزاء طلبګاروی ، الله پاک فرمائی : «**أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ**» الزمر: ٣ترجمه : خبرشئ ! خاص الله پاک لره دین (بلنه) خالص دی ، الله پاک فرمائی: «**وَمَا أُمِرُوا إِلاَّ لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ** »البينه : ٥) ترجمه : او نه دی حکم کړی شوی دوی ته مګر دپاره ددی چی بندګی دِی کوی د الله پاک چی خالص کونکی وی هغه لره بندګی ، په بخاری او مسلم کښې د عتبان بن مالك رضی الله عنه نه روایت دی

چی نبی کریمﷺ فرمائی: «**فَإِنَّ اللهَ قَدْ حَرَّمَ عَلَى النَّارِ مَنْ قَالَ: لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ يَبْتَغِي بِذَلِكَ وَجْهَ اللهِ**» متفق علیه ترجمه : پس یقینا الله پاک په اور هغه څوک حرام کړیدی چی لا اله الا الله د الله د رضا د لټولو دپاره ووائی .

**المحبة** : يعني ددی لوئی شان والا کلمئ سره محبت کول ، چی دا محبت شامل دی ددی کلمئ معنی اومقصد ته، او هغه څه ته چی دا کلمه دهغی غوښتنه کوی، یعنی دالله پاک او درسول الله ﷺسره محبت وکړی او ددوی محبت په ټولو محبتونو باندی مخکښې وی، د محبت شرطونه او لوازم په مضبوطوالی سره ونیسی، دالله پاک محبت به پیوسته وی دهغه د اِجلال او تعظیم (لوئی) سره، اود یری او امید سره، او محبت به کوی د هغه څه سره چی دالله خوښ وی لکه دځایونونه مکه مکرمه او مدینه منوره او عام مساجد او په وختونو کښې رمضان، او لس ورځې دذی الحجې وغیره او په اشخاصو کښې انبیاء کرام، رسولان، ملائک علیهم السلام، صدیقین، شهداء او صالحین، او په افعالو کښې مونځ ، زکاة ، روژه او حج وغیره، په اقوالو کښې ذکر او تلاوت د قرآن کریم وغیره،او د الله پاک محبوب دخپل نفس په خواهشاتو او محبوباتو مخکښې

کړی. او هغه څه بد وګنړی چی د الله پاک بدی شی، دالله پاک کفر، فسق او نافرمانی بدی شی.الله پاک فرمائي: «يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلاَ يَخَافُونَ لَوْمَةَلآئِمٍ» [المائدة: ٥٤]

ترجمه : اے ایمان والو ! څوک چی مرتد شو ستاسو نه ددین خپل نه (په دوستانه دکافرانو سره) پس زردی چی رابه ولی الله پاک داسی قوم چی مینه به کوی الله پاک د هغوی سره او هغوی به مینه کوی د الله پاک سره ، نرم به وی په مؤمنانو باندی ، او سخت به وی په کافرانو باندی ، جهاد به کوی په لاره د الله کښې، اونه به یریږی د ملامتیا د ملامت ګرنه.

**معنی د محمد رسول الله ﷺ :**

یعني ددی څه معني ده چي محمد صلي الله علیه وسلم د الله رسول دي ؟ دتوحید د کلمئ ددی جزء معنی داده چی په ښکاره او پټه باندی محمد مصطفی ﷺ د الله تعالی بنده او ټولو انسانانو ته د الله پاک د طرفنه رالیږلئ شوی رسول ومنلئ شی ، او ددی په تقاضا باندی عمل وکړی شی ، په څه باندی چی امر کوي هغه ومنلي شي ، او د څه چی خبر ئی ورکړی دی

په هغی تصدیق وکړیشی او د څه نه چی منع کړی ده د هغی نه منع کیږی او دالله پاک عبادت په هغه طریقه کوی چی رسول الله ﷺ ښودلی وی ، د کلمه شهادت ددی حصی دوه ارکان دی ، (عبده ورسوله) دادواړه په حق د نبی کریم ﷺکښې افراط او تفریط (کمئ او زیاتی)ختموی ، نو نبي کریم ﷺ د الله پاک بنده او رسول دی ، په دی دواړو عزتمندو صفاتو کښې د هر چا نه کامل دی ، د عبد معنی ده بنده عبادت کونکی، یعنی نبی کریمﷺبشر دی ، نور انسانان چه د څه نه پیداء شوي دي د هغي نه نبی کریم ﷺ هم پیداء شوی دی ، کوم ضرورتونه چی د نورو انسانانو دی هغه د نبی کریم ﷺ هم دی، الله پاک فرمائی :«**قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ**» الکهف : ١١. ترجمه: ته اووایه ! یقیناځه بنده یم ستاسو پشان (محتاج یم) ، او الله پاک فرمائی : «**الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَنزَلَ عَلَى عَبْدِهِ الْكِتَابَ وَلَمْ يَجْعَل لَّهُ عِوَجَا**» الکهف:١ **ترجمه** : ټول صفتونه دالوهیت خاص دی الله پاک لره هغه ذات دی چی نازل کړی ئےدی په بنده خپل باندی کتاب ، اونه ئے **دی** ګرځولی ده لره هیڅ کږلیچ ، د رسول معنی داده : یعني ټولو انسانانو ته ددعوت الی الله دپاره رالیږلی شوی دی

زیری او یره ورکونکی دی ، د رسول الله ﷺ دپاره ددی دوه صفتونو (اقرار د عبدیت او اقرار د رسالت) ګواهي ورکولو سره دا خبره لازمه ده چی د نبی کریم ﷺ په باره کښې به افراط او تفریط یعنی کمي او زیاتي نشي کولے ، اګر چی ددی امت بعض خلقو دنبی کریم ﷺ په شان مبارک کښې ډیره غلو او زیاتی کړیدی تردی پوری چی بعضو د عبدیت د مرتبئ نه دالوهیت مرتبئ ته رسولیي دی ، مددونه تری غواړی سیواء دالله نه او دهغه څیزونو غوښتنه تری کوی چی د هغی په ورکولو صرف الله پاک قادر دی لکه د حاجتونو پوره کول دغمونو او مصیبتونو لری کول وغیره وغیره ، بعض نورو خلقو خو د هغه د رسالت نه انکار کړی دي او کوتاهی ئی کړی ده په تابعدارئ او د واجب حق د نبی کریم ﷺ کښې چی مخکښې کړی ئی دی اقوال د ټولو انسانانو په اقوالو او حُکمونو د رسول الله ﷺباندی ، اود نبي کریم ﷺ دسنتو مبارکو سره ئے جفاء کړی ده او مخ ئےتری اړولی ، او په هغه اقوالو باندی ئےاعتماد کړی چی د نبی کریم ﷺ د راوړلے شوی تعلیماتونه مخالف دی .

# د ایمان ارکان

ایمان د قول (وینا) عمل اوعقیدې نوم دی چې په نیکو اعمالو سره زیاتیږی او په ګناهونو او نافرمانۍ سره کمیږی، ایمان د زړه او د ژبې وینا ده اود زړه او ژبې او داندامونو عمل دی ، یعنی دزړه وینا عقیده ساتل دی، تصدیق کول دی، او دژبې وینا اقرار کول دی ، د زړه عمل تسلیمیدل، اخلاص کول ، یقین ، محبت کول او د نیک کارونو ارادی لرل دی ، او داندامونو عمل حکمونه اداکول دی ، او د ګناهونو نه منع کیدل دی ، قرآن کریم او سنت نبوي پدی خبره ګواهی کوی چی ایمان دپاره څه اصول دی چې هغه ایمان په الله پاک باندي، په ملائکو د هغه، په کتابونو د هغه، په رسولانو دهغه، په ورځ روستنۍ باندي اوپه تقدیر دخیر او شر باندي ایمان لرل دی ، الله پاک فرمائی:«**آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَآئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لاَ نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِ وَقَالُواْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ**».[البقره: ۲۸۵]. **ترجمه**ایمان راوړیدي رسول ﷺ په هغه څه چي نازل کړي شویدی دی د ته د طرفه درب دده نه ، اومؤمنانو هم، هریو ایمان راوړی دی په الله پاک او

په ملائکو دهغه او په کتابونو د هغه او په رسولانو دهغه، (وائي دوی) جدائي نه کوو مونږ (په ایمان راوړلو کښې) په مینځ د هیڅ یو تن د رسولانونه ، او وائی دوی واوریدلو مونږ او تابعداری کوو مونږ، غواړو بخنه ستانه اے ربه څمونږ! او تاته دی درګرځیدل د ټولو ، اوپه حدیث د مسلم کښې د عمررضی الله عنه نه نقل دی ، جبریل علیه السلام د نبی کریم ﷺ نه د ایمان په باره کښې تپوس وکړو ، نبی کریم ﷺ وفرمایلي دی: «**أَنْ تُؤْمِنَ بِاللّٰهِ، وَمَلَائِكَتِهِ، وَكِتَابِهِ، وَلِقَائِهِ، وَرُسُلِهِ، وَتُؤْمِنَ بِالْبَعْثِ، وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ كُلِّهِ**» (مسلم :۸ )
ترجمه: ایمان دادی چی ته ایمان راوړی په الله باندی، او په ملائکود هغه ، په کتابونو د هغه ، او په ملاقات دالله تعالی باندي، او د هغه په رسولانو، او ایمانراوړی په دوباره راپورته کیدلو باندی، او ایمان راوړی په تول تقدیر باندی، دا د صحیح عقیدی شپږ اصول او بنیادي کارونه دی چی الله پاک په قرآن کریم کښې بیان کړی دی او پدی عقیده باندی نبی کریم ﷺ رالیږلی شوی دی، دیته ارکان د ایمان وئیلی شی.

**اول: په الله پاک باندې ایمان لرل:**

الله پاک باندې دایمان راوړلو معنی داده چې الله پاک په خپل ربوبیت کښې په الوهیت کښې او په نومونو او صفتونوکښې ایکې یو وومنلے شی ،الله پاک باندې ایمان راوړلو کښې دا راتلونکې ټولے خبرې داخلې دي .

(۱) پدې خبره ایمان راوړل چې هغه حقیقی معبود دی، د عبادت حقدار دی نه بل هیڅ څوک، ځکه چې هغه ټول بندګان پیداء کړیدی او ورسره مهربانی کوی ، رزق ورکوی، او د ټولو په ښکاره او پټو حالاتو باندې خبر دی، تابعدارو ته په غوره بدله او نافرمانو ته په سزا ورکولو باندې قدرت لری ددې حقیقت دادې چې د عبادتونو ټول اقسام د الله پاک دپاره یواځې کول چه صرف د هغه دپاره په عاجزۍ او مینې او یری سره وکړی شی سره د کمال محبت او ذلت نه د الله پاک عظمت ته ، ددې لوئی مقصد د بیانولو دپاره دقرآن کریم اکثره حصه نازله شویده ، الله پاک فرمائی : «**فَاعۡبُدِ اللَّهَ مُخۡلِصًا لَّهُ الدِّينَ (٢) أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الۡخَالِصُ**» الزمر۲-۳ .**ترجمه :** پس بندګی کوه الله پاک لره خالص کړه هغه لره بندګی اوخبرشئ خاص الله پاک لره دین(بندګی)خالص ده ، او الله

تعالي فرمائي : «فَادْعُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ» غافر١٤ .**ترجمه**:حاجتونه غواړئ دالله نه چه خالص کونکی ئی هغه دپاره بلنه اګرچی بدګنړی کافران ، بل ځائی الله پاک فرمائی : « وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُواْ إِلاَّ إِيَّاهُ» الاسراء: ٢٣.**ترجمه** : او فیصله کړیده ستا رب چی بندګی مه کوی مګر صرف ددغه الله ، دعبادت ډیر زیات قسمونه دی لکه دعاء ، یره ، امید، توکل، مینه، عاجزی، مدد غوښتل، پناهي غوښتل، فریاد کول، باران غوښتل، ذبحه کول، نذر او منخته کول، ددی نه علاوه دعبادت ډیر زیات شکلونه دی چی د غیر الله دپاره کول ئے جائز ندی بلکه د غیر الله دپاره کول ئے شرک او کفر دی.

**ددعاءدلیل** : الله پاک فرمائی: «وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ» غافر : ٦٠.ترجمه : او وئیلی دی رب ستاسو حاجتونه غواړی زمانه زه به ستاسو دعا قبلوم ، یقینًا هغه کسان چی لوئی کوی ددعاء زمانه زردی چی داخل به شی جهنم ته چی ذلیلان به وی ، په حدیث د نعمان بن بشیر رضی الله عنه کښې راغلی دی، هغه دنبی کریمﷺنه روایت کوی :« **الدُّعَاءُ**

هُوَ الْعِبَادَةُ » . (رواه الترمذي : ۲۹٦۹) ترجمه :دعاء عین عبادت دی.

**د خوف(یرې) دلیل** : الله پاک فرمائي : «**فَلاَ تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ**» آل عمران:۱۷۵.ترجمه : پس مه یریږۍ د هغوی نه او اُویریږۍ زمانه که ئې تاسو مؤمنان ،

**دلیل درجاء (امید)** : الله پاک فرمائي : «**فَمَن كَانَ يَرْجُو لِقَاء رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلاً صَالِحًا وَلا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا**» الکهف: ۱۱۰ترجمه : څوک چې امید لري د ملاقات د رب خپل نو عمل دِې وکړي د سنت برابر او شریک دِې نه جوړوي په بندګۍ د رب خپل کښې هیڅوک لره.

**دلیل دتوکل(ځان سپارل)** : الله پاک فرمائي: «**وَعَلَى اللّهِ فَتَوَكَّلُواْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ**» المائدة : ۲۳.ترجمه: او خاص په الله پاک باندې توکل کوی که تاسوئې مؤمنان ، او بل ځائې الله پاک فرمائي : «**وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ**». الطلاق :۳ .ترجمه: څوک چې ځان وسپارلو په الله پاک باندې نو الله پاک به ورله پوره شي .

**دليل درغبت ، رهبت، اوخشوع** (يعني د مينې ، يرې او عاجزۍ) : الله پاک فرمائي :«**إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا وَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ**» الانبياء: ۹۰) ترجمه: يقينًا دوی (انبياء عليهم السلام) به کوشش کولو په ښو نيکو کارونو کښې ، او حاجتونه ئې غوښتل زمونږنه ، په مينه او په يره سره ، او وو دوی مونږ ته عاجزی کونکے.

**دليل دخشيت** ، يرې : الله پاک فرمائي: «**فَلاَ تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِي**» البقرة: ۱۵. ترجمه: پس مه يريږی د دوينه او ځمانه اُويريږئ.

**د اِنابت دليل** :واپس کيدل : الله پاک فرمائي : «**وَأَنِيبُوا إِلَى رَبِّكُمْ وَأَسْلِمُوا لَهُ**»الزمر: ٥٤. ترجمه : او وګرځئ (په توبه کولو سره)رب خپل ته او تابع شئ د حکمونو د هغه.

**داستعانت(مددغوښتلو)دليل** : الله پاک فرمائي : «**إِيَّاكَ نَعْبُدُ وإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ**» الفاتحه : ٥. ترجمه :خاص تا لره بندګی کوو مونږ او خاص ستانه امداد غواړو ، او نبی کريم ﷺفرمائي : (اذا استعنت فاستعن بالله)الترمذی : ۲٥۱. ترجمه : کله چي ته مدد غواړي نو مدد غواړه د الله نه.

**د استعاذئ (پناهئ غوښتلو)دليل** : الله پاک فرمائي:«**قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ**» (الناس :١) **ترجمه**:ته اُووايه ! پناهی غواړم په رب دانسانانو باندی.

**د استغاثے (فرياد كولو)دليل** : الله پاک فرمائی: «**إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ**»الانفال:٩ .ترجمه :کوم وخت چي فريادکولو تاسو خپل رب ته پس قبوله ئے کړه دعاء ستاسو.

**دليل د ذبحے** : الله پاک فرمائی : «**قُلْ إِنَّ صَلاَتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ** (١٦٢) **لاَ شَرِيكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَاْ أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ**» الانعام : ١٦٣.ترجمه : اُووايه ! يقينا مونځ زما او قرباني (مالی عبادت) زما او ژوند زما او مرګ زما خاص الله پاک لره دی چی رب د ټول مخلوقاتو دی ، نشته هيڅ برخی والاد هغه سره ، او په دی سره حکم کړی شويدی ماته او ځه اول د تابعداري کونکو نه يم .

**دسنتو نه دليل** : نبی کريم ﷺ فرمايلی دی : « **لعَنَ اللَّهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللَّهِ** » مسلم : ١٦٣.ترجمه : لعنت کړی الله تعالي په هغه چا چی دغير الله په نوم باندی ذبح کوی.

**د نذر دليل:** دا وينا د الله پاک ده : «**يُوفُونَ بِٱلنَّذْرِ وَيَخَافُونَ يَوْمًا كَانَ شَرُّهُۥ مُسْتَطِيرًا**» الانسان:۷) ترجمه : پوره کوی دوی منخته او ويره کوي د هغه ورځی نه چه د هغی سختي خوره وره ده ، تردی پوری چی عام عادتونه کله چی مقصد پکښې ځان د الله پاک داطاعت دپاره قوی کول وی دغه عادت هم عبادت وګرځی لکه خوب ، خوراک ، څښاک ، رزق پيداکول ، نکاح کول وغيره چی مؤمنته په صحيح نيت باندی حاصليږی

(۲) الله پاک باندی ايمانراوړلو کښې يوه حصه داده چی په تمامو فرائضواو واجباتو او د اسلام پنځه ظاهری ارکانو باندی ايمان راوړلی شی چی هغه ګواهی د توحيداو د رسالت ده ، دمونځ پابندی ، زکات ورکول ، درمضان روژه نيول ، او د بيت الله حج کول دی ، څوک چی د سفرکولو وس لری ، ددی نه علاوه نور احکام او فرائض چی شريعت مطهره بيان کړيدی هغه منل دي.

(۳) په ايمان بالله کښې دا خبره هم داخله ده چی ايمان ولری پدی خبره چی الله پاک د ټول عالم پيداکونکی دی او دټول مخلوق تربيت کونکی دی او په ټول عالم کښې په خپل

قدرت اوعلم سره تصرف کونکی دی ، د دنیا او د آخرت مالک دی ، دټولو مخلوقاتو پروردګار دی ، بل خالق نشته د هغه نه علاوه ، هغه رسولان او کتابونه رالیږلی دی دبندګانو داصلاح اوددنیا او د آخرت دنجات دپاره ، په دی ټولو کارونو کښې الله پاک سره هیڅ څوک شریک نشته دی.

الله پاک فرمائی : «**اَللَّهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ**» الزمر: ٦٢. ترجمه : الله پاک پیداکونکی د هر څیز دی او هغه په هر څیز ذمه وار دی

(٤) د ایمان بالله یوه حصه داهم ده چی د الله پاک په ښائسته نومونو او د لوئی په صفتونو باندی ایمان راوړلے شی هغه چی قرآن کریم ذکرکړی دی اویا د رسول امین ﷺ نه په صحیح احادیثو کښې نقل دی بغیر دتحریف (بدلون) نه ، بغیر د تعطیل(انکار کولو) نه ، بغیرد تکییف( شکل بیانولو)نه ، او بغیر دتمثیل (مثال بیانولو)نه او ایمان راوړل په هغه معناګانو چی دا نومونهورباندی دلیل وی ځکه چه دا اوصاف د الله پاک دی چی د الله پاک صفت پری په صحیح طریقه کیږی چی دهغه دشان سره څنګه لائق وی ، لکه څنګه چی الله پاک فرمائی : «**لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ**

**الْبَصِيرُ**» الشوری : ۱۱. ترجمه : نشته د هغه پشان هیڅ څیز او هغه هرڅه اوری، هر څه وینی .

## دویم : دالله پاک په ملائکو باندی ایمان لرل دي:

په ملائکو باندی د ایمان راوړلو دوه صورتونه دی ، اجمالی او تفصیلی ایمان ، اجمالی ایمان : مونږ ایمان لرو پدی خبره چی الله پاک دپاره ملائک شته ، الله پاک پیدا کړی دی ، او فطرت کښې ئی ورله اطاعت اچولی دی ، ډیر قسمونه لری ، بعض ملائکو د الله پاک عرش اوچت کړیدی ، بعض د جنت او جهنم څوکیداران دی ، بعض ملائک د بندګانو د اعمالو حفاظت کوی.

**تفصیلی ایمان** : دکومو ملائکو چی الله پاک او د هغه رسول ﷺ نومونه ذکر کړیدی ، په هغی ایمان لرل لکه جبرائیل ، میکائیل ، اسرافیل او دجهنم څوکیدار مالک علیهم السلام وغیره ، ملائک الله پاک د نُور نه پیداء کړی ، په حدیث د عائشه رضی الله عنها کښې راغلی دی : **قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم** : «**خُلِقَتِ الْمَلاَئِكَةُ مِنْ نُورٍ وَخُلِقَ الْجَانُّ مِنْ مَارِجٍ مِنْ**

**نَارٍ وَخُلِقَ آدَمُ مِمَّا وُصِفَ لَكُمْ** »مسلم ۲۹۹٦ . ترجمه: نبي کریمﷺفرمايلي دی : ملائک د نُور نه پیداء شویدی ، د پیریانو پلار جان د اُور دلمبے نه پیداء شوی دی، او آدم علیه السلام د هغه څه نه پیداشویدی چی تاسوته بیان شوی دی. (یعني خاوری نه) .

## دریم : دالله په آسمانی کتابونو ایمان لرل:

آسمانی کتابونو باندی اجمالی ایمان پدی طریقه واجب دی، چی الله پاک په خپلورسولانواوپیغمبرانوباندی کتابونه نازل کړیدی چی بندګانو ته حق واضحه شی ، او حق طرفته ورله بلنه ورکړی ، د تفصیلی ایمان صورت دادی چی دکومو کتابونو نومونه چی ذکر شویدی هغه د نومونو سره وومنلی شی، لکه زبور، تورات، انجیل ، او قرآن کریم ، قرآن کریم آخری کتاب دی ، د نورو کتابونو محافظ او تصدیق کونکی دی، ددی تابعداری کول ، اوددی فیصله منل په ټول امت باندی لازم او فرض دي، سره دهغه احادیثونه چی صحیح ثابت شی ، د هغی منل هم لازم دی ، ځکه چی الله پاک محمد رسول الله ﷺ انسانانو او پیریانو ته رسول رالیږلی دی او په

هغه باندی ئے قرآن کریم نازل کړی دی چی د خلقو مینځ کښې پری فیصله وکړی ، او قرآن کریم د باطنی مرضونو علاج ګرځولی شویدی ، د هر څیز وضاحت کونکی او د هدایت ذریعه ګرځولی شوی ده ، الله پا ک فرمائی: «**وَهَٰذَا كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ فَاتَّبِعُوهُ وَاتَّقُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ** » الانعام: ۱۵۵. ترجمه : او دا کتاب نازل کړی دی مونږ برکت والا دی ، پس تابعداری وکړي دده او یره کوئ دی دپاره چی رحم درباندی وکړی شی ، الله پاک فرمائی : «**وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ** »الانعام : ۸۹ ترجمه : او نازل کړی دی مونږ په تا باندی دا کتاب وضاحت کوونکی د هری ضروری خبری او هدایت دی او رحمت دی ، او زیرئ دی دمسلمانانو دپاره.

## خلورم : د الله په رسولانو ایمان :

رسولانو باندی هم اجمالی او تفصیلی ایمان واجب دی ، نو زمونږه ایمان دی چی الله پاک خپلو بندګانو ته رسولان رالیږلی دی ، زیری ورکونکی، یره ورکونکی او دحق دعوت ورکونکی،الله پاک فرمائی:«**وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ**

رَّسُولاً أَنِ اعْبُدُواْ اللّهَ وَاجْتَنِبُواْ الطَّاغُوتَ....» النحل : ٣٦.
ترجمه: يقينا راليږلی دی مونږ په هر امت کښې رسول (په دی خبره) چی بندګی خاص کړی د الله پاک دپاره ، او ځان وساتئ د (بندګئ) دغیرالله (طاغوت) نه ، پس چاچی د رسولانو خبره وومنله هغه کامیاب شو په نیک بختئ او سلامتیا سره ، او چاچی خبره ونه منله ، د هغه انجام ناکامی او پښیمانتیا شوله ، زمونږه ایمان دی چی د رسولانو دعوت یو دی چی هغه توحید او یواځې د الله پاک بندګئ ته دعوت دی اګرکه په احکامو او شریعتونو کښې مختلف وو ، او زمونږه ایمان دی چی بعض انبیاء کرام علیهم السلام الله پاک غوره کړیدی په بعضو نورو باندي ، او په ټولو رسولانو کښې افضل اوخاتم د رسولانو زمونږ نبی کریم محمد صلی الله علیه وسلم دي ، لکه څرنګه چي الله پاک فرمائی : «**وَلَقَدْ فَضَّلْنَا بَعْضَ النَّبِيِّينَ عَلَى بَعْضٍ**» الاسراء : ٥٥.ترجمه : اويقينا غورهوالي ورکړی دي مونږ بعضو پیغمبرانوته په بعضو نورو باندی ، الله پاک فرمائی: «**مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ**» الاحزاب٤٠ ترجمه : محمد ﷺ پلار نه دی د هیچا د نارینو ستاسونه لیکن رسول د الله

پاک دی او د پیغمبرانونه آخری نبی دی ، او تفصیلی ایمان لرو په هغه پیغمبرانو چی دهغوی نومونه الله پاک او دهغه رسول ﷺبیان کړی وی لکه نوح، هود، صالح ، ابراهیم علیهم وعلى نبينا أفضل الصلوة وأزكى التسليم.

**پنځم : په آخرت باندی ایمان :**

آخرت باندی ایمان کښې هر هغه څه داخل دی چی الله پاک او رسول ﷺ ئے خبر ورکړی وی چی د مرګ نه پس به راځی لکه د قبر فتنه او عذاب ، او نعمتونه ، اوهغه چه د قیامت په ورځ باندی به کوم حالات او یری او سختیانئ او تکلیفونه واقع کیږی ، پل صراط ، د عملونو تول ، او حساب کتاب ، او د عملونو بدله او خلقو کښې د هغوي عملنامی خوریدل چی څوک به عمل نامه په ښي لاس او څوک به ئے د شا طرفنه په چپ لاس اخلی ، او دارنګه په آخرت باندی ایمان کښې په حوض کوثر باندی ایمان هم داخل دی چی زمونږ د نبی کریم ﷺ به دهغی ساقی وی ، او د هر نبی کریم دپاره خپل خپل حوض شته لکه څنګه چی حدیث کښې راغلی دی ، او ایمان لرل په جنت او جهنم باندی ، او د مؤمنانو د خپل

رب ليدل او خبرې كول د هغه سره ، او هرهغه څه چې قرآن كريم او صحيح احاديثو كښې ذكر شوي وې ، په هغې ټولو ايمان راوړل لازم دي، او د هغې تصديق په هغه طريقه چې الله تعالي او رسول الله ﷺ بيان كړې وې .

## شپږم : په قضاءاو تقدير باندې ايمان راوړل

تقدير باندې ايمان څلور خبرو ته شامل دی.

(۱) څه چې شوې دې او څه چې كيږې پدې ټولو الله پاک پوهيږی ، او دخپلو بندګانو په ټولو احوالو باندې ، د هغوی په رزق ، دهغوی په عمر ، او ټولو اعمالو باندې پوهيږی ، چې پدې كښې يو معمولي څيز هم په الله پاک باندې پټ نشته ، الله پاک فرمائی: ﴿**إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ**﴾التوبة۱۱۵ ترجمه: يقينا الله پاک په هرڅه باندې پوهه دې ، (۲) الله پاک چې څه فيصله كړې ده او چې كوم تقدير ئې مقرر كړيدې هغه ټول ئې ليكلې دی الله پاک فرمائې : ﴿ **وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ فِي إِمَامٍ مُبِينٍ** ﴾يس ۱۲. ترجمه : او هر څه مونږ راګير كړې دې په كتاب ښكاره كښې،(۳) پدې خبره ايمان راوړل چې الله پاک څه خوښه او څه اراده وكړې هغه به كيږی ، چې څه

وغواړی هغه کیږی او څه چی ونه غواړی هغه نه کیږی ، الله پاک فرمائی: «**كَذَلِكَ اللَّهُ يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ**»آل عمران: ٤٠) ترجمة : دغه رنګه الله پاک کوی څه چی وغواړی.

(٤) الله پاک مقدور شوی څیزونه مخکښې د موجودکیدو نه پیداکړی دی لکه څنګه چی الله پاک فرمائی: «**وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ**» الصافات : ٩٦ترجمه: او الله پاک پیداء کړی یئ تاسو او ستاسو عملونه.

# شرک او د هغی اقسام

**شرک** : شرک دیته وائی چی یو بنده د الله پاک سره په ربوبیت یا اُلوهیت یا د هغه په نومونو او صفتونو کښې حصه دار جوړ کړی .

د شرک دوه قسمونه دی : (١) شرک اکبر (لوي شرك) (٢)شرک اصغر (وړوکی شرك)

**شرک اکبر**: ددی مقصد دادی چی دالله تعالی د بندګئ څه حصه د غیر الله دپاره وکړیشی، دا قسم شرك کونکے که بغیر د توبے نه مړ شو همیشه دپاره به جهنم کښې وی، او

دغه رنګه ټول اعمال به ئے بربادوی،الله پاک فرمائی : «**وَلَوْ أَشْرَكُواْ لَحَبِطَ عَنْهُم مَّا كَانُواْ يَعْمَلُونَ**» الانعام: ۸۸ .ترجمه: او که بالفرض شرک کړی وی دوی (انبیاء علیهم السلام) خامخا برباد شوی به وؤ د دوی نه هغه عملونه چې دوی کول)، د خالصے توبے نه بغیر الله پاک شرک اکبر نه معاف کوی، الله پاک فرمائي: «**إِنَّ اللّهَ لاَ يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَن يَشَاء وَمَن يُشْرِكْ بِاللّهِ فَقَدِ افْتَرَى إِثْمًا عَظِيمًا**». النساء: ٤٨.**ترجمه** : یقینا الله پاک نه بخی دا چې شرک اوکړی شي د هغه سره ، او بخی هغه ګناهونه چې خکته وی ددی نه، چا لره چې وغواړی، او چا چې شرک وکړو دالله پاک سره ، نو یقینًا ده جوړه کړه ګناه لویه،

**د شرک اکبر بعض صورتونه دا دي** : د غیرالله نه دعا غوښتل ، دغیرالله په نوم نذر کول ، دغیرالله دپاره ذبحه کول، او یا د الله پاک سره شریک جوړ کړی ، او داسے محبت ورسره کوی لکه څنګه چې دالله پاک د محبت حق دی ، الله پاک فرمائی: «**وَمِنَ النَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ اللّهِ أَندَاداً يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللّهِ**».البقرة ١٦٥.ترجمه:اوبعض دخلقو نه هغه دی چې

نیسي سیواء دالله تعالی نه شریکان، مینه کوي دهغوی سره پشان دمینې د دوی دالله تعالی سره.

(۲) شرک اصغر:

هغه عمل چې قرآن او سنت کښې ورته شرک وئیلې شوی دی لیکن شرک اکبر ته نوی رسیدلې هغې ته شرک اصغر وائي، دا قسم شرک انسان د ملتِ اسلامیه نه نه وباسی، لیکن په توحید کښې نقصان راولی لکه په نیک عمل کښې معمولی ریاء (ځان ښودنه) او یاهر هغه عمل چې ذریعه دشرک اکبر وی اګر که شرک اکبر نوی لکه د قبر په خواکې دالله دپاره مونځ کول، او یا د غیر الله په نوم قسم خوړل اګرچې د هغه نه عقیده دنفع او نقصان ونه لری، او داسې وئیل چې الله پاک څه وغواړی او دا فلانکی سړی څه وغواړی هغه کیږی، یا داسي وینا کول: که الله او ته نه وي نو داسي به شوي وي، یا داسي وئیل: په تا به شي او په الله به شي، او ددي پشان نور اعمال او اقوال، نبی کریمﷺ فرمائیلی دی: «**إِنَّ أَخْوَفَ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمُ الشِّرْكُ الأَصْغَرُ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ،وَمَا الشِّرْكُ الأَصْغَرُ ؟قَالَ:الرِّيَاءُ**». (رواه احمد والطبراني الكبير واسناده جيد)، ترجمه:تاسو باندی ډیرزیات

زه د ورکوټي شرک نه یریږم ، تپوس وشو نووی فرمائیل: ریاء (ځان ښودنه) ده ، نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائی: «مَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللَّهِ فَقَدْ أَشْرَكَ»رواه ابوداؤد (۲۸۲۹). ترجمه : چا چی د غیرالله په نوم قسم وخوړلو یقینا هغه شرک وکړو، د شرک اصغر پدی قسم کښې دا اعمال هم داخل دی : تعویذونه او کنجکی زوړندول ، تارونه او کړئ د مرضونو اومصیبتونو د دفع کولو دپاره اچول ، لیکن کچرته دا عقیده وساتی چی دا فائده او ضرر رسوی ، او صرف د اسبابو په درجه کښې ئےنه ګڼړي نو بیا دا په شرک اکبر کښې داخل دی.

## د فِرقه ناجیه (نجات موندونکي ډلے) د عقائدو خلاصه

د فرقه ناجیه عقیده یقینا هغه ده کومه عقیده چي داهل السنة والجماعة ده ، هغه داده چي یو رشتینی مؤمن به ددي خبري ګواهی کوی چی الله پاک رب دی ، حقیقی معبود دی ، دکمال په ټولو صفتونو کښې یک یو دی ، مؤمن بنده د یو ذات عبادت کوی ، او د هغه دپاره خالص او مخلص وی ، او

پدی خبره پوهيږی چی صرف الله پاک خالق دی ، جداء جداء پيداء کونکې دی ، شکل ورکونکې دی ، رزق ورکونکې دی، عطيه ورکونکې، منع کونکې دی، دټول نظام چلونکې دی ، الله پاک حقيقی معبود دی، دهرڅه نه اول دی ، مخکښې تری هيڅ نه وو او دهرڅه نه آخری دی روستو تری هيڅ نشته دی،او ښکاره دی داسے چی پورته تری څه نشته، او باطن دی داسی چی ښکته تری څه نشته دی ، هغه اعلی او اُوچت دی په هر معنی او اعتبار سره ، د هغه ذات اُوچت دی ، د هغه مقام اُوچت دی، د هغه غلبه او طاقت د هر څه دپاسه دی ، د الله عزوجل ذات په عرش باندی مُستوی (برابر) دی ، په داسے استواء سره څرنګه چی د هغه د ذات او د عظمت سره مناسب وی ، او الله تعالي سره داُوچتوالی د هغه نه هغه په ښکاره او پټو څيزونو باندی عالم دی ، او په آسمانی مخلوقاتو او د زمکی په مخلوق هم خبر دی، د خپلو بندګانو سره دی د علم په اعتبار سره، يعني د هغوی په ټولو احوالو باندی پوهيږی.هغه نزدی دی ، او دعا قبلونکی دی ، د ټول مخلوق نه بے نيازه دی ، ټول مخلوق په خپلو ضرورتونوکښې هروخت هغه ته محتاجه دی، يوه لحظه

هم دالله نه نشی بے نیازه کیدلے ، هغه شفقت کونکے او رحم کونکے دی ، په بندګانو باندی هیڅ یو دینی یا دنیوی نعمت نشته مګر دالله د طرفنه دی هغه نعمتونه ورکونکي او عذابونه دفع کونکی دی ، الله پاک دخپل رحمت د وجی نه د شپئ په آخری حصه کښې راکوزیږی او اعلان کوی :

« **مَنْ ذَا الَّذِى يَدْعُونِى فَأَسْتَجِيبَ لَهُ، مَنْ ذَا الَّذِى يَسْأَلُنِى فَأُعْطِيَهُ، مَنْ ذَا الَّذِى يَسْتَغْفِرُنِى فَأَغْفِرَ لَهُ فَلاَ يَزَالُ كَذَلِكَ حَتَّى يُضِيءَ الْفَجْرُ** » صحیح مسلم ، ترجمه : څوک دی چی زمانه سوال وکړی چی زه ئےورله ورکړم ، څوک دی چی زمانه بخنه وغواړی چی زه ورته بخنه وکړم ، دا سلسله د صبا راختو پوری جاری وی الله پاک حکیم ذات دی ، په احکامو د شریعت او په تقدیرکښې د الله پاک لوئی حکمتونه ښکاره کیږی ، الله پاک هیڅ مخلوق عبث ندی پیداء کړی او نه ئے یو شریعت د شریعتونو نه نازل کړیدی مګر هغی کښې به د انسانانو مصلحت او فائدی وی ، او یا پکښې د فساد د ختمول وی هغه ذات بیا بیا توبه قبلونکی ، عفوه کونکی او بخنه کونکی دی ، دخپلو بندګانو توبه قبلوی ، توبه ویستونکو، بخنه غوښتونکو او انابت کونکو ته الله پاک تهول لوئی او

واړه ګناهونه معاف کوی ، هغه قدردان ذات دی، لږ عمل قبلوی ، اوپه هغی ډیر اجر ورکوی، او دخپل فضل نه شکر ګزارو ته ډیر څه ورکوی ، شتینی مؤمن الله پاک په هغه صفتونو سره یادوی چی کوم صفتونه الله پاک د خپل ځان دپاره ذکرکړی دی ، او یا رسول الله ﷺ دالله پاک دپاره ذکر کړی وی ، که هغه صفات ذاتی وی او که صفات فعلی وی، لکه کامل ژوند ، کامل اوریدل اولیدل ، کامل قدرت او عظمت ، لوئی ، جلال ، جمال ، او کمال او کامل حمد او ثناء، قرآن کریم او صحیح احادیثو کښې چی څه راغلی وی په هغی به مؤمن عقیده ساتی لکه ایمان والا به په جنت کښې الله پاک لره په سترګو باندی وینی ، د الله پاک دیدار او د هغه رضا باندی کامیابیدل د جنت عظیم ترین نعمتونه او خوندونه دی ، او دا عقیده به هم لری چی څوک د ایمان او د توحید نه بغیر وفات شی، هغه به جهنم کښې همیشه دپاره وی، مؤمنان چی کبائرو (لویو ګناهونو) لره کونکي وی، بے د توبے نه وفات شی اګر که جهنم ته داخل شي بیا به هم همیشه پکښې نه وی، بلکه د چا په زړه کښې چه د اُوری (رائي) د دانے په اندازه ایمان وی په جهنم کښې به همیشه

دپاره نه پاتے کیږی (د سزا پوره کیدو نه پس) به دجهنم نه راوځی،ایمان د زړه عقائدو، اقوالو او اعمالو ته شامل دی، او د اندامونو اعمال د ژبے اقوالو ته هم شامل دی ، چا چی دا ذمه واریانے پوره طریقے سره اداء کړی هغه رشتینی مؤمن دی، او حقدار د اجر او ثواب دی ، د عذاب نه به **محفوظ** وی او چا چی کوتاهی وکړه ددی په اندازه به دهغه ایمان کمزوری وی ، ددی وجی نه دا قاعده ده چی په طاعت او د خیر په کارونو سره ایمان زیاتیږی، او په فساد او ګناهونو سره ایمان کمیږی ، مؤمن بنده ددی ګواهی ورکوی چی **محمد** ﷺ د الله پاک بنده او رسول دی ، الله رالیږلے دی په هدایت او حق دین باندی ، ددی دپاره چی اسلام په ټولو دینونو باندی غالب کړی ، او په ایمان والو باندی د هغوي د ځانونو نه هم ډیر مهربانه دی ، د انبیاء کرامو علیهم السلام سلسلی لره ختمونکی دی ، انسانانو او پیریانو ته زیری او یره ورکونکی رالیږلی شویدی ، د الله په حکم باندی ددین داعی دی ، د بَلی ډیوی پشان روښانه دی ، ددنیا او د دین د اصلاح دپاره الله رالیږلی دی چی خلق دیوالله (چی شریک ورسره نشته دی) عبادت وکړی، او د الله پاک بندګۍ ته

خپل ځان د الله په رزق باندې مضبوط کړي ، او مؤمن پدې خبره هم پوهیږي چې زمونږ نبي کریم ﷺ د ټول مخلوق نه ډیر علم والا دی ، د ټولو نه ډیر رشتیني دي او د ټولونه ډیرخیرخواه دی ، او ډیر واضحه بیان والا دی ، د مؤمن په زړه کښې د خپل نبي کریم ﷺ دپاره تعظیم او محبت وي ، او دخپل نبي کریم ﷺ محبت د ټولې دنیا په محبتونو باندې مخکښې وي ، په اُصولو او فروعو کښې دخپل نبي کریم ﷺ پسې روان وي ، د خپل نبي کریم ﷺ وینا او عمل دهرچا په وینا او عمل باندې مخکښې کوي ، او داعقیده ساتي چه الله پاک په خپل حبیب کښې ټول فضائل ، خصوصیتونه اوکمالات راجمع کړي دي چې بل چاکې ئےندي پیداءکړي ددې وجې نه هغه د مرتبے او مقام په لحاظ سره د ټول مخلوق نه اُوچت دی ، او لوی جاه او جلال والا دی ، په هر صفت کښې کامل دی ، هیڅ خیر نشته مګر خپل امت ته ئےښودلے دی، او هیڅ شر نشته مګر خپل امت ئےد هغې نه ویرولے دی، مؤمن بنده دالله د طرفنه په هر نازل شوي کتاب او په هر رالیږلې شوي رسول باندې ایمان لري ، که د هغوي د نومونو علم ورته وي او که نه ، د رسولانو په مینځ کښې

فرق نکوی په ایمان کښې چی د هغوی دعوت یو وو ، صرف د الله پاک چی شریک ورسره نشته دهغه بندګئ ته رابلل کول ، مؤمن بنده په تقدیر باندی پوره ایمان لری ، او پدی خبره هم پوهیږی چی الله پاک دخپل بنده په هر عمل خبر دی، دهغه قلم لیکلی دی، دالله پاک مشیت او اِراده پکښې جاری شویده ، د الله پاک د حکمت عین مطابق دی الله پاک خپل بنده له قدرت او اراده ورکړی ده ، خپل اختیار باندی خبری کوی ، خپل اختیار باندی هرکارکوی ، الله پاک نه دی مجبوره کړی ، بلکه الله تعالي خود مختاره پیداء کړی دی.خاصکرایمان والو ته الله پاک د خپل عدل او انصاف مطابق د ایمان محبت ورکړی دی ، او د مؤمنانو په زړونو کښې ئےایمان ډولی کړی دی ، او کفر ، ګناه او نافرمانی ئےورته بده ښکاره کړیده ، ددین د بنیادی اصولو نه دا هم ده، چی مؤمن سړی د الله پاک دپاره خیرخواه وی ، او د هغه د کتاب ، د هغه د رسول، دمؤمنانو د امامانو (علماؤ او امیرانو) او د عامو مؤمنانو دپاره خیرخواهی او همدردی کوی ، د نیکو اعمالو حکم او د بدو اعمالو نه منع به کوی ، څومره چی شریعت ئےتقاضا کوی ، دخپل مور او پلار خدمت به کوی،

د خپلو خپلوانو سره به ښه تعلق ساتی ، او د ګاونډیانو حقونه به اداء کوی ، د عامو مخلوقاتو سره به احسان کوی ، خائسته او عمده اخلاقو ته به خلق رابلی، او د بدو او ناکاره اخلاقونه به خلق منع کوی ، مؤمن به ددی خبری عقیده ساتی چه د ټولو نه کامل ایمان د هغه چا وی د چا چی څومره اعمال نیک وی او اخلاق ئے مزیدار وي ، د ټولو خلقو نه زیات رشتینی وی ، هری نیکئ او د خیر او فضیلت کارته زیات مخکښې کیږی او د هری بد عملئ نه زیات ړواندی کیږی ، مؤمن پدی خبره ښه پوهیږی چي د الله په لار کښې جهاد به تر قیامت پوری جاری وی ، او جهاد د اُوچت کوی (اُوښ په شا اوچتئ حصی) پشان مرتبه لری ، په اسلام کښې جهاد که په علم وی او که په دلیل وی ، اوکه په اسلحه سره وی ، په هر مسلمان باندی فرض دی د خپل استطاعت (وس) مطابق به د خپل دین نه دفاع کوی ، د جهاد امیر که نیک وی او که ګنهګار وی چی شرطونه د امارت پکښې موجود وی د هغه په ملګرتیا کښې به جهاد کیدلے شي ، د اسلام په بنیادی اصولو کښې دا هم داخل دی چی د مسلمانانو د اتفاق او اتحاد دپاره پوره کوشش وکړی شی ، ددوی دزړونو د

جوړښ دپاره په خلوص باندی کوششونه وکړی شی ، د مسلمانانو خپل مينځ کښې د ډله بازي د ښمنئ او د نفرت نه پرهيز وکړی شي ، او ددی مقاصدو د حاصلولو دپاره دِی هرقسمه وسيله استعمال کړی شی ، او دغه رنګه د الله پاک مخلوق ته دِی هيڅ قسم تکليف ورنکړی شی ، نه د هغوی په مال کښې ، نه د هغوی په ژوندکښې ، نه د هغوی په عزت کښې بلکه په ټولوحقونو کښې ورسره خير خواهی وکړی شی ، د کافر او مسلمان دواړو سره دِی د عدل او انصاف معامله وکړی شي ، د هر مسلمان دا ايمان دی چی په ټولو امتونو کښې د محمد ﷺ امت افضل او غوره دی ، او بيا دوی کښې صحابه کرام رضي الله عنهم غوره دی ، خاصکر عشره مبشره (هغه لس صحابه کرام چی د جنت زيری ورته په دنيا کښې په يو مجلس کښې ورکړی شوی وو) او بيا هغه صحابه کرام چه بدر ته حاضر شوی وو ، بيا بيعت رضوان والا (يعني صلح حديبيه ته حاضر شوی خلق) او د مهاجرينو او انصارو صحابه کرامو رضوان الله عليهم اجمعين نه مخکښني اسلام راوړونکی ، مؤمنان د ټولو صحابه کرامو سره خالص د الله پاک دپاره محبت کوی ، د

هغوی خائسته صفات بيانوی، اوهغوی طرفته منسوب شوی غلطو خبرو نه چپ پاتےکيږی ، او د الله پاک د رضا په خاطر د ټولو علماؤ او د عدل او انصاف کونکو حکمرانانو او د هر هغه چا چی په دين کي ئے اُوچتۍ مرتبۍ وي ، او په مسلمانانو باندی ئی قسماقسم احسانات وي ، د دين خدمت ئےکړی وی ، او يا د عامو مسلمانانو خدمت ئے کړی وی ددی ټولو احترام ساتی ، او د الله پاک نه دعاءکوی چی داټول مسلمانان الله پاک په دين کښې د شک نه وساتی اوپه عقيده کښې ئےد شرک نه اُوساتی ، او الله پاک مسلمانان خپل مينځ کښې دډله بازۍ نه اُوساتی ، اوپه ايمان کښې ئےد منافقت نه اُوساتی ، او د هرقسم غلطو اخلاقونه دِی الله پاک محفوظ اُوساتی او تر مرګه پوری دِی دوی الله پاک د خپل نبی کريم ﷺ په دين مضبوط پاتے کړی، دا يو څو خبری وی چی حق پرسته ډله پدی ايمان راوړی او نور خلقوته ددی دعوت کوی.

و بالله تعالى التوفيق

## فهرست د عقیدے بنیادی خبرے


| | |
|---|---|
| د توحید پیژندنه او د توحید قسمونه | 3 |
| توحید: ①ربوبیت ② الوهیت ③ اسماء لصفات | 3 |
| د اسماء حسنی مثالونه | 7 |
| د الله پاک د بعض صفاتو مثالونه | 9 |
| د کلمه توحید لا اله الله معنی | 11 |
| د توحید د کلمی ارکان | 12 |
| د کلمه توحید لا اله الله فضیلت | 13 |
| د کلمه توحید لا اله الا الله شرطونه | 15 |
| معنی د محمد رسول الله ﷺ | 23 |
| د ایمان ارکان | 26 |
| د الله پاک په ملائکو باندے ایمان | 35 |
| دالله پاک په اسمانی کتابونو ایمان لرل | 36 |
| د الله پاک په رسولانو ایمان | 37 |
| په آخرت باندے ایمان | 39 |
| په قضاءاو تقد یر باندے ایمان راورل | 40 |
| شرک او دهغی اقسام | 41 |
| د فرقه ناجیه(نجات موندونکے ډلے)د عقائد | 44 |

| | |
|---|---|
| فهرست | 54 |